مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: H. G. Wells
ژباړن: محب‌الله زغم

۲۰۲۵/۰۹/۲۸

# د مړ شوي ښاغلي ایلویشم کیسه

ما دغه کیسه ځکه ولیکله چې نور خلک هم دغه وژونکي تېروتنه ونه کړي، لکه ما. زما خپل وضعیت، چې ما ته معلوم دی نو له تمي وتلي دی. زما نوم دی ایډوارډ جورج ایدن.

درې کلن وم چې مور مي مړه شوه او په پنځه کلنی کي مي پلار ومړ. بیا خپل تره جورج ایدن په زویولی ونیوم. د هغه په برکت مي د لندن کالج یوهنتون کي طب ولوست.

یو جوړ بوټان مي د جوړولو لپاره ورل چې هغه په ونه تیت بوډا سړی مي په لومړي ځل ولید. هغه زما د کور د وره مخې ته ولاړ و او سترګي یې زما د کور په نمبر پوري ښخي کړي وې. څنګه چې ما ور پرانیست، ویې ویل: ښخي په سم وخت کي راغلي. ما نه دي د کور نمبر هېر شوی و. څنګه یې ښاغلی ایدن؟

حیران شوم چې دی مي څنګه پېژني ځکه چې هغه مي په ټول ژوند کي چېرې نه و لیدلی.

بیا یې وویل: چېرته بنداز سره نه کوو؟

خندې وروسته مي وویل: ولله څه ووایم.

ویې ویل: ته به وایي چې دا به نو څوک وي. یو ملګری، دغه داډ درکولی شم. ښاغلی ایدن، د غرمي ډوډی را سره خوري؟

زه هاغه مهال ډېر ځوان وم، بې تجربې او خوشباوره وم. ځکه خو بې له فکره مي د هغه مېلمستیا قبوله کړه. د ډوډی پر مهال مي په ځیر ور وکتل. مخ یې ګونځې ګونځې و، شونډې یې پر مصنوعي غابښونو ځړېدې. ویښتان یې نري او د ایرو په رنګ وو او شا یې کږوږه.

ما چې ور کتل، پام مي شو چې دی هم را ګوري. او دغه شیبه یې وویل: اصلي خبره به در ته وکړم چې کیسه څه ده. زه زوړ سړی یم، ډېر زوړ. د قسمت کاروته دي، څه ثروت او شته یې راکړي دي. خو اولاد نه لرم چې دغه میراث یوسي.

نبغ یې را وکتل، ویې ویل: له ځانه سره مي غوټه کړې چې یو ځوان سړی به پیدا کوم چې په بدني او په روحي لحاظ رګ روغ وي چې زه یې خپل وارث کړم او هر څه چې لرم، هغه ته یې ورکړم.

خپله خبره یې غبرګه کړه: هر څه چې لرم، هغه ته به یې ورکړم.

ځان مي په ټګی وواهه، په موسکا مي وویل: ښه، ښه، نو له ما غواړئ چې داسي کس در ته پیدا کړم؟

هغه موسکی شو او را ویې کتل، لکه زما په دې لباسي خاکساری چې پوه شوی وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ويي ويل: خو شرط به لري. زما وارث به مثلاً زما نوم ور خپلوي. خبره دا ده چي چا ته خو هسي څه نه ورکول کېږي، څه به اخلي، څه به ورکوي.

پوښتنه مي وکړه: زه سم پوهېدلی يم؟ زه؟

سم له واره يې وويل: هو، ته.

خو ولي زه؟

ده تصادفاً زما د استاد له خولې اورېدلي وو چي زه روغ او هوښيار ځوان يم.

هغه خپل شته باید داسي چا ته ور پرېږي اېښي وای چي روغ جوړ وي. خو ده غوښتل چي ما دي هغه مشهور ډاکټر هنډرسن خامخا معاينه کړي. بيا به دی وروستی پرېکړه کوي. دا د جمعې ورځ وه چي هغه دا خبره غوټه کړه.
د شپې نه بجي وې چي هغه زما د کور زنګ وکړنګاوه. ويي ويل: ښاغلی ايډن! د معاينې نتيجو ته خوشحاله يم. نن به خامخا له ما سره ډوډی ته ځې چي سره ويي لمانځو، ته به زما وارث کېږې.

ښه مي يادېږي چي د شپې ډوډۍ مو څومره پرېمانه وه، د رستوران پر مېز باندې رنګ رنګ خوراکونه اېښي وو. هلته هغه بوډا را ته خپل نوم واخيست: ايګبرټ ايلويشم، لوی فيلوسوف. هغه چي ان د مکتب له وختونو يې له نامه سره آشنا وم.

ما چي خوراک ښناک کول، ده به يو رقم را ته کتل چي ته وا رخه يې را سره کېږي. ويي ويل: ته رښتيا په دي پوهېږې چي سړی له ژونده څرنګه خوند اخلي.

بيا يې اسويلی وکيښ او پسي ويي ويل: خو دا به ډېر نه پايي.
ومي ويل: اوه، دغسي ده. زما راتلونکی به ډېر ښه او هيله بخښوونکی وي او دا هر څه ستاسو د سخاوت او لورېينې برکت دی. زه به سر له اوسه دغه وياړ او دغه بخت لرم چي ستاسو نوم را خپل کړم.

بيا مي وويل: تاسي زما د راتلونکي په بدل کي داسي ماضي لرئ چي زما د ټول راتلونکي بدله به وي.
– ستا راتلونکی؟ رښتيا يې راسره بدلوې؟ ته رښتيا زما د ټېر عمر کلونه په خپله خوښه در خپلوې؟
– له هغو ټولو خدمتونو او کارونو سره چي تاسو ترسره کړي دي؟ بالکل يې غواړم.

هغه وخندل. ګارسون ته يې کړه: دوه ګېلاسه د لمانځلو لپاره.

له جېب نه يې يو وړوکی پاکټ را وايست. په منځ کي يې ګلابي رنګه پوډر و.

ويي ويل: ښه نو، اټکل وکړه چي دا پوډر به څه شی وي. دا چي له شرابو سره ګډ کړي نو بيا عجيب اثر کوي.
په مرموز ډول يې را وکتل او پوډر يې په دواړو ګېلاسونو کي ووېشه. بيا ودرېد او لاس يې زما خوا ته را وغځاوه. ما هم دغسي وکړل.

لاسونه مو سره ورکړل.

هغه ګېلاس خولې ته ور پورته کړ او ويي ويل: د راتلونکي ميراث په سلامتی!

په بېړه مي وويل: نه، نه. د اوږده عمر په هيله!

په ناڅاپي خندا سره يې زما خبره غبرګه کړه: د اوږده عمر په هيله!

او جامونه مو په سر واړول.

هغه دا ټوله موده ما ته کتل.

څنګه چي هغه شی مي وڅښه، ناڅاپه يو عجيب شديد احساس را ته پيدا شو. ته وا کوم شی مي په سر کي ګرځي.
داسي ښکارېده چي دا حالت به ډېر وپايي. تېري هېري خاطرې را په زړه کېدې او بېرته ورکېدې.
ويي ويل: نو!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ

سره له دې چې د شرابو خوند ته مې ښېخي پام نه و کړی خو ومې ویل: عالي دي!

ساعت ته یې وکتل. ویې ویل: اوه! اوه باندې یوولس بجې دي. زه باید سم له لاسه ولاړ شم.

بل یې ور وغوښت او خدای پاماني مو سره وکړه.

په تلو کې یې را ته وویل: دغه شی مې باید نه وای درکړی. سهار به سخت سرخوږی ولرې.

بیا یې د یوه پوډر وړوکی پاکټ راکړ. ویې ویل: تر څملاستو مخکې، دا له اوبو سره وخوره. خو ګوره، کله چې څملې. دا به دې ذهن بېرته در تازه کړي.

سر راباندې ګرځېده او زه کور ته ولاړم.

کوڅې ته چې ورننوتم، پته را ته ولګېده چې د کور نمبر مې هېر کړی دی. په سختۍ سره مې ایله ۱۱ Aرا په زړه شو او داسې را ته وایسېده چې دا به داسې چا را ته ویلي وي چې ډېر پخوا را نه هېر شوی دی. هڅه مې وکړه چې د شپې دوړې په مهال چې څه تېر شوي وو، هغه را یاد کړم، ګوندې سر مې په کیسه خلاص شي. خو چې هر څه مې وکړل، د کوربه څېره مې رایاده نه شوه. سترګو ته مې د هغه داسې تت غوندې تصویر درېده.

خو د هغه پر ځای مې په خپلو دروني سترګو ځان ولید. ځان مې داسې ولید چې یوه مېز ته ناست یم. رنګ مې سور اوښتی، هیجان اخیستی یم او ډېر غږېږم.

ځان سره مې وویل: دغه بل پوډر باید وخورم ګنې هر څه لا پسې عجیب و غریب کېږي.

په لومړي نظر خپله کوټه را ته ډېره نا بلده ښکاره شوه. پر کټ کېناسم او د موزو په را ایستلو مې پیل وکړ. بیا مې پوډر به یو ګېلاس اوبو کې حل کړ. ګېلاس مې په سر واړاوه.

له دې سره به خوب وړی وم. د شپې ناڅاپه راوېښ شوم. په خوله کې مې یو عجیب خوند و. ټوک ټوک وم او په ټوله ځرمن کې مې یو نه خوښېدونکی حس درلود. داسې را و برېښېده لکه په پردی کوټه کې چې یم. داسې یو تت غوندې شی مې احساس کړ چې و یې ډار کړم.

را پاڅېدم او سوکه سوکه په دې تت شي پسې ولاړم. کړکی وه. څه مې چې ولید، بېخي راته پردی و ایسېد. وروسته داسې څه وشول چې ظاهراً عادي برېښېده خو داسې ټکان یې راکړ چې لا اوس هم چې ورته فکر کوم، غوني مې ځیږېږي.

په لوړ غږ مې وویل: دلته څه کوم؟

او غږ مې خپل نه و. پر خپل لاس مې لاس تېر کړ چې وګورم ویښ یم که هسې خوب وینم. لاس مې ګونځې ګونځې، زوړ او بې سېکه و.

په ډاروونکي غږ مې وویل: بې له شکه، بې له شکه چې دا خوب دی.

ګوته مې په خوله کې ومنده. غاښونه مې نه وو. له وېرې ولړزېدم.

بېرته چې کټ ته ختلم، په ژړغوني غږ مې وویل: دا به خامخا خوب وي. سهار به دا خوب تللی وي او زه به بېرته د نور کله غوندې قوي او روغ رمټ را پاڅم.

خو دغه هیله مې پوره نه شوه. خدای زده چې ژوند څنګه را نه وښوېده او څنګه داسې بوډا شوم. زه غولېدلی وم، زما د ژوند بهترین شیان، زما مینه، زما ځواني، زما هیلې یې را نه لوټلې وو.

بیا لړزنده تر هینداري پورې ولاړم او هلته مې د ایلویشم څېره ولیده: ځړېدلي غومبري، د ایرو په رنګ ویښتان، ستوماني سترګې، رېږدونکې ګونځې ګونځې شونډې او تر لاندې یې توري ورې. یو په صورت روغ بني آدم چې لا یې هیلې ارمانونه لرل، تصور نه شي کولی چې په داسې زاړه وراسته جسم کې به ایسار وي. ښایي د دې را پېښ شوي بدلانه په وجه به څه موده کرخت او بې سده شوی وم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دا سبا يي ذهن مي کار وکړ او وار له واره وپوهېدم چي ايلويشم ځومره هوښيار او په عين حال کي ځومره بد سړی و. ځنګه چي زه د ده په جسم کي يم، کټ مټ همداسي دی زما په جسم کي ور ننوتلی او دغسي يي زما قوت او زما راتلونکی ور خپل کړي دي. خو په دې خبرې مطمين ځنګه وم؟ ښايي ټول ژوند يو وهم و، خيال و.

هسي خو به نه وي چي زه به پخپله ايلويشم وم او دا به مي هسي په خوب کي ليدلي وي چي زه ايډن يم؟

چي رښتيا به کوم ايډن هم وي، که نه؟

خو که زه ايلويشم وم، نو دا مي هم بايد په زړه وي چي چېرې وم، په هغه ښار کي چي اوسېدم، هغه څه نومېده. هېڅ شی مي نه يادېده، غير له هغه ژونده چي زه په کي ايډن وم.

سر مي د نل تر يخو اوبو لاندې کړ. کله مي چي ځان وچاوه، بيا مي هڅه وکړه چي را ياد يي کړم خو نه کېده. بيخي يقين مي و چي زه ايډن وم خو د ايلويشم په جسم کي پټ شوی وم.

هېڅوک به زما د دې بدلانه کيسه نه باوروي. دغه دوې ورځې وړاندې لا يو روغ ځوان وم چي ټول ژوند يي په مخ کي و. خو اوس بد غونی بوډا سړی يم، ژړاند، ناهيلی، له ټولو نه بېل شوی.

خو ايلويشم بيا زما په ځوان جسم کي خپل نوی ژوند پيلوي. هغه زما ژوند لوټلی.

دقيقاً څه را پېښ شوي وو، نه پوهېږم.

د مطالعي په خونه کي مي د حافظي د ارواپوهني په اړه نوټونه وموندل. په غالب ګومان به خبره داسي وه چي هغه خپلي ټولي خاطرې او خپل شخصيت له خپل زاړه ماغزه نه زما ماغزو ته ور لېږدولي دي. زما خاطرې او يادونه يي بيا خپل زاړه بدن ته را جذب کړي دي.

يعني هغه زموږ جسمونه سره بدل کړي دي. خو داسي کار نو ځنګه کېدای شو. سړی ځنګه څوک له خپل جسمه بېلولی شي؟ هېڅ مي سر نه خلاصېده.

وروستی هڅه مي وکړه. په چاړه مي د مېز مخفي روک خلاص کړ. هلته يو وړوکی بوتل و او په بوتل کي سپين پوډر. پر بوتل ليکلي وو: «خلاصون». دا به خامخا زهر و. خامخا به ايلويشم دا زما لپاره په مېز کي ايښی وي. په دې کار به هغه دا يوازينی کس چي په محکمه کي به د هغه په ضد خبرې کولی شي، له مخي پورته کوي.

دغه سړي د تلپاتي عمر مسله حل کړې ده. هغه به زما په کالبد کي ژوند وکړي، تر هغه پورې چي زوړ شي او بيا به يو نوی قرباني لټوي. خدای زده چي تر اوسه پورې به يي څو کالبدونه بدل را بدل کړي وي؟

پوډر داسي برېښېده چي په اوبو کي به حل کېږي. خوند يي بد نه و.

د ښاغلي ايلويشم د مېز له سره موندل شوې کيسه په همدې ځای کي ختمېږي.
د هغه مړ بدن د مېز او چوکۍ تر منځ پروت و.

يوازې دوه عجيب واقعيتونه پاتي شول چي درته ويي وايم. وړاندې تر دې چي ايلويشم ځان ووژني، ايډن په عجيب ډول مړ شوی و. ۲۴ ساعته وړاندې هغه يوه ټکسي لاندې کړی او هغه ځای پر ځای مړ شوی و.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ